Hosted by Refugee Legal Support and Safe Passage International

# برتانيې ته د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي (ARAP) ځان سره د مرستې الرښود

نسخه ۲ | ۲۰۲۴



# اعلامیه

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا لارښود د یوې سرچینې په توګه لیکل شوی ترڅو د افغان اتباعو او د دوی د کورنیو له غړو سره د (ARAP) سکیم په پوهیدو او لاسرسي کې مرسته وکړي

پداسې حال کې چې دا تل غوره ده چې د خپلو ځانګړو شرایطو لپاره ځانګړي قانوني مشورې وغواړئ، دا لارښود د مرستې لپاره دی که چېرې د قانوني مشورې ترلاسه کول ممکن نه وي.

د دې لارښود تعقیب تضمین نه کوي چې ستاسو غوښتنلیک به بریالی وي. د دې دلیل لپاره، موږ تاسو هڅوو چې قانوني مشوره وغواړئ. دا ناشونې ده چې د (ARAP) سکیم ټولې برخې دلته تشریح کړو نو دا لارښود یوازې مهم ټکي توضیح کوي. د (ARAP) په اړه د نورو معلوماتو لپاره د دې لارښود په پای کې د نورو سرچینو برخه وګورئ، همدارنګه د بریتانیا د دولت رهنما د (ARAP) او د کډوالۍ قانون ضمیمه . (ARAP)

دا لارښود د سوداګریزې کارونې لپاره ندی. د دې راپور عکسونه او بیا تولید د افغان پرو بونو نوښت (APBI) ، ته د مناسب کریډیټ سره اجازه ورکول کیږي. د عکسونو د هرې کارونې یا بیا تولید لپاره، یا نور توکي چې د (APBI) ، د کاپي حق لاندې ندي، اجازه باید په مستقیم ډول د کاپي حق لرونکو څخه ترلاسه شي. د نورو معلوماتو لپاره شمیم سرابي، د (APBI) ، د ټولنې ښکیلتیا او څیړنې مشرې سره په دې (shamim@afghanprobono.org.uk) اړیکه ونیسئ.

ټول حقونه خوندي دي، © ۲۰۲٤ APBI

# فهرست


1
۱ څپرکي
(PARA) څه شی دی او څوک درخواست کولی شي؟

2
۲څپرکی
دغوښتنلیک د چمتوکولو او سپارلو څرنګوالی

3
۳ څپرکی
د کورنۍ غړي چې وړ دي

4
۴ څپرکی
د کورنۍ اضافي یا نورغړي

5
۵ څپرکی
د شواهدو راټولول

6
۶ څپرکی
ستاسو د (ARAP) غوښتنلیک له سپارلو وروسته

7
۷ څپرکی
که ستاسو غوښتنلیک رد شي څه باید وکړئ

8
۸ څپرکی
که ستاسو غوښتنلیک ومنل شي، نو بیا څه؟


# ضمیه


1
ضمیمه ۱
د (ARAP) د غوښتنلیک فورمه

2
ضمیمه ۲
د (ARAP) د بیان بېلګه

3
ضمیمه ۳
د ځای په ځای کېدو د وړاندیز یو بېلګه

# پیژندنه

## د افغان پرو بونو نوښت په اړه

دا د ځان سره د مرستې لارښود د افغان پرو بونو د ابتکار (APBI) له خوا برابر شوی ده

(APBI) یوه پروژه ده چې د Safe Passage International و Support Refugee Legal لخوا د ۱۳ مخکښو (APBI) پروژهٔ است که به صورت مشترک توسط سوداګریزو حقوقي شرکتونو سره په ګډه وړاندې کیږي.

دا پروژه د افغان اتباعو او د هغوی د کورنۍ غړو د ضرورت لپاره ده چې د طالبانو له واک ته رسیدو وروسته بریتانیا ته د خوندي لارو په اړه معلوماتو، قانوني مشورې او استازیتوب ته لاسرسی ولري.

په د (APBI) انفرادي قضیو کارتمرکز په لوړ کیفیت قانوني مشورې، راجع کول، او په یو لړ قضیو کې استازیتوب بانديې ده، د کورنۍ د یو ځای کېدو، د (ARAP) سکیم ، د افغان اتبا عو د بیا میشتیدنې سکیم او نورو په شمول. تاسو کولای شئ په دلته (APBI) ورځپاڼې کې ګډون وکړئ تر څود افغان اتبا عو د بیا میشتیدنې سکیم په بریتانیا کې ، وزارتي خبرونه د افغان کډوالو په اړه او د افغانانو لپاره د (APBI) د خد ماتو تازه معلوماتو تر لاسه کړئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې (APBI) د انګلستان د حکومت او یا د (ARAP) قضیې کاري ټیم برخه نه ده، او نشي کولی د انګلستان حکومت د (ARAP) غوښتنلیکو نوباندې پریکړه وکړي یا هر ډول نفوذ ولري.

## دا لارښود د چا لپاره دی؟

دا لارښود د هغو افغانانو لپاره دی چې د افغانانو د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي (ARAP) لاندې د درخواست کولو وړ دي او غواړي چې یوغوښتنلیک وسپاري او یا د (ARAP) د رد ځواب بیا کتنه غواړي.

د لارښو موخه دا ده چې د هر هغه چا سره مرسته وکړي چې قانوني سابقه نه لري تر څو د قانوني مشاور له ملاتړ څخه پرته غوښتنلیک چمتو او ورکړي.

## نظرونه

موږ به واقعاً د دې لارښود په اړه د نظرونو ستاینه وکړو. که تاسو د دې لارښود په اړه کوم نظر، پوښتنې یا وړاندیز لرئ، مهرباني وکړئ د دې فورمه له لارې یې موږ سره شریک کړئ.

## قدرداني


د لارښود دا نسخه د Allen Overy Shearman Sterling LLP د او و رضاکارو وکیلانو په ارزښتناکه همکارۍ سره رامینځته شوې ، چا چې د دې لارښود چمتو کولو لپاره په سخاوت سره خپله پوهه ، تخصص او وخت ورکړ.

موږ د Laetitia Nappert-Rosales, Louise Mitchell, Olivia Hardy, Alex Waterson, Oliver Bradgate, Michael Hossack, وNahima Parvin د ونډې ژوره ستاینه کوو.

موږ په ځانګړې توګه د داوطلبانو د ټیم مشرۍ کولو لپاره د لیتیتیا نیپرټ-روزالس او لوئیس مچل څخه مننه کوو، او همدارنګه د لارښو په بیاکتنې او تازه کولو کې د دوی هڅو لپاره.

موږ د لارښود په ډیزاین کولو کې چې د لوستلو وړتیا او لاسرسی یې د پام وړ و ده کړې د Nahima Parvin د فکري او تخلیقي نظریاتو لپاره د هغې د هڅو خورا ستاینه کوو. موږ واقعا له ټولو کسانو نه چې د دې سرچینې څخه د یو ارزښتناک لارښود په جوړولو کې ښکېل و د هغوی د سخت کارلپاره مننه کوو.

## ۱ څپرکې

# (ARAP) څه شی دی او څوک درخواست کولی شي؟

### ۱.۱ (ARAP) څه شی دی[1]

د (ARAP) سکیم د هغو افغان اتباعو لپاره دی چې په افغانستان کې د انګلستان د حکومت لپاره یا ورسره کار کاو او د طالبانو له جدي خطر سره مخ دي.

(ARAP) ور افغان اتباعو ته موقع ورکوي چې د انګلستان حکومت ته د بریتانی د ځای په ځای کیدو لپاره درخواست وکړي. ور اشخاص کولی شي انګلستان ته له خپلې میرمنی او ماشومانو سره کډه وکړي. د کورنۍ نور غړي هم په استثنايي شرایطو کې شامل کیدی شي.

د (ARAP) سکیم د ۲۰۲۱ کال په اپریل کې د انګلستان حکومت لخوا پیل شوی او خلاص پاتې دی. دې لارښود نیټې پورې، د هغو خلکو په شمیر کې هیڅ محدودیت نشته چې د (ARAP) سکیم لاندې ځای په ځای کېدای شي.

### لاندې فلوچارټ ستاسو د غوښتنلیک د بشپړولو لپاره اړین ګامونه ښيي.

وګورئ چې تاسو د (ARAP) د ورتیا په معیارونو کې یاست (۱.۲څپرکی وګورئ)

وګورئ چې د (ARAP) کومه کټګوری تاسو ته تطبیق کېږي (۱.۳ څپرکی وګورئ)

د خپل غوښتنلیک د ملاتړ لپاره اړوند شواهد راټول کړئ (۱.۳ څپرکی وګورئ)

د (ARAP) آنلاین غوښتنلیک ډک کړئ، او دا چې د کورنۍ خومره غړي د (ARAP) لاندی درخواست کوي(۲ څپرکی وګورئ)

**ستاسو د قضیې ارزونه بریالۍ ده**

**نه**

که ستاسو غوښتنلیک رد شي (یا ستاسو د کورنۍ غړي یا د کورنۍ نور غړي رد شوي)، تاسو کولی شئ د انلاین د بیاکتنې فورمې په ډکولو سره د انکار لیک د ترلاسه کولو له نیټې څخه تر ۹۰ ورځو پورې د پریکړې بیاکتنه وغواړئ که چیرې تاسو باور لرئ چې (۱) پریکړه د پالیسۍ سره سم نه وه شوې؛ او/یا (۲) تاسو کولی شئ د خپلې قضیې د ملاتړ لپاره نوي شواهد وړاندې کړئ چې تاسو د پریکړې په وخت کې نه درلود (۷.۱ او ۷.۲ څپرکی وګورئ).

که ستاسو بیا که رد شي، تاسو باید انګلستان ته نورې خوندي او قانوني لارې په پام کې ونیسئ (نورې سرچینې وګورئ)

**هو**

که ستاسو غوښتنلیک بریالی وي، تاسو به د ځای پرځای کېدو وړاندیز ترلاسه کړئ ( ۸ څپرکی وګورئ) او د (ARAP) ټیم به له تاسو سره اړیکه ونیسي او له تاسو به د کورنۍ د غړو توضیحات چې په غوښتنلیک کې شامل دي وغواړي. د کورنۍ د غړو توضیحات و رکړئ ( ۳څپرکی وګورئ) او د کورنۍ د هر بل اضافي غړي (۴ څپرکی وګورئ)، د هر ډول اسناد و په اضافه (۵ څپرکی وګورئ).

که ستاسو د کورنۍ غړي مستحق وي، د (ARAP) ټیم به د دوی له خوا د بریتانیې د کورنیو چارو وزارت ته د ویزې غوښتنلیک (که دوی د انګلستان څخه بهر وي) یا د میشته کېدو غوښتنلیک (که دوی په انګلستان کې وي) وړاندې کړي.

انګلستان ته د سفر لپاره ویزه ترلاسه کړئ (۸ څپرکی وګورئ)

1 Immigration Rules ARAP 3.1 – 3.7

## ۱,۲ څوک کولئ شي د (ARAP) لاندې د مرستې لپاره غوښتنه وکړي؟

(ARAP) د هر هغه افغان اتباع لپاره چې عمر يې د ۱۸ کالو يا پورته وي خلاص دی چې د ۱ اکتوبر ۲۰۰۱ راهيسې په هر وخت کې د انګلستان حکومت (او ځينې قراردادیانو) لخوا په مستقيم ډول په افغانستان کې ګمارل شوی او داسې ارزونه شوی وي چې ژوند يې له جدي ګواښ سره مخ دی. ستاسو د کار وضعيت، رتبې يا رول يا د خدمت د وخت اوږدوالی د (ARAP) لپاره په وړتوب اغيزه نکوي.

تاسو ممکن د (ARAP) لاندې درخواست ونشئ کولی که تاسو له دندې ګوښه شوي ياست، مګر دا چې تاسو د يو کوچني دليل لپاره ګوښه شوي ياست. که تاسو د انګلستان د حکومت د ځانګې لخوا بې کاره شوي ياست، يا له افغانستان څخه د انګلستان د اردو د وتلو له امله استعفا ورکړې، د (ARAP) سکيم ممکن ستاسو سره مرسته وکړي. د (ARAP) غوښتنليک له هر هيواد څخه جوړيدی شي ( د انګلستان د دننې په شمول).

که تاسو د (ARAP) معيارونه پوره کړئ، تاسو به وکولی شئ انګلستان ته د راتګ و لپاره د دايمي هستوګنې غوښتنه وکړئ. که تاسو دمخه په انګلستان کې له دايمې اقامه سره د راتګ لپاره اويا د هستوګنې لپاره ياست يا تاسو دمخه د برتانيا تابعيت لرئ ، تاسو د (ARAP) لاندې مستحق نه ياست او نشئ کولی د خپلې کورنۍ د غړو يا د کورنې د نورو غړو لپاره ستاسو سره د يوځای کېدو لپاره د (ARAP) لاندې غوښتنلی ورکړې. که تاسو له بلې لارې انګلستان ته راخلي ياست او موقتی اقامه لرئ يا تاسو د خپل غوښتنليک پايلې ته په تمه يئ چې د کډوالی له بلې لارې مو ورکړئ، تاسو بيا هم کولی شئ د (ARAP) لاندې غوښتنه وکړئ که تاسو د (ARAP) معيارونه پوره کوئ. تاسو ممکن دا کار وکړئ ترڅو خپل د کډوالی وضيت دايمي اقامه ته بدل کړئ.

### که تاسو څو ميرمنې يا ميړونه لرئ

تاسو کولی شئ يوازې يو پاتنر/ د ژوند شريک د (ARAP) په غوښتنليک کې شامل کړئ. که تاسو له يو څخه ډير د ژوند شريک لرئ، ستاسو يوازې يو پارټنريا د ژوند شريک کولی شي انګلستان ته د راتلو يا پاتې کېدو لپاره غوښتنه وکړي.

### که وړ افغان ت بعه مړ وي

که چيرې هغه څوک چې د (ARAP) معيارونه پوره کوي مړ وي، د کورنۍ ژوندي غړي ممکن د(ARAP) لاندې غوښتنه وکولئ شي.

که چيرې مړ شوی کس د (ARAP) سکيم لاندې درخواست کړی وي مخکې له دې چې مړ شي، نو د کورنۍ ژوندي غړي به د (ARAP) سکيم لپاره په پام کې ونيول شي که چيرې:

- د کورنۍ غړي او د کورنۍ اضافي غړي په غوښتنليک کې شامل شوي؛
- هغه کس چې مړ شوی د (ARAP) ټيم لخوا انګلستان ته د بيا مېشته کېدو لپاره وړ وپيژندل شوی و(په شمول د هغې پريکړې چې د شخص له مړينې وروسته شوې وه)؛ او
- د غوښتنليک پروسه او انګلستان ته د ځای په ځای کيدو لپاره د مهاجرت مقررات او اړتياوې يې پوره کړې وي.

که چيرې مړ شوی کس د مړينې دمخه د (ARAP) سکيم لاندې غوښتنليک نه وي سپارلی، نو د کورنۍ ژوندي غړي به د (ARAP) سکيم لپاره په پام کې ونيول شي که چيرې:

- هغه کس چې مړ شوی وي د (ARAP) سکيم لاندې به انګلستان ته د ځای په ځای کيدو لپاره وړ ګڼل کېده: او
- د غوښتنليک پروسه او انګلستان ته د ځای په ځای کيدو لپاره د مهاجرت مقرراتو اړتياوې پورکوي

برسېره پردې، غمجنې کورنۍ بايد:

- شواهد وړاندې کړئ چې وړ کس مړ شوی دی؛
- د دې ثبوت وړاندې کړئ چې د کورنۍ هر غړی څنګه د مړ شوي کس سره تړاو لري؛ او
- وښيي چې د وړ کس مړينه د خطر په کچه يا د دوی د زيان منلې کچې باندې مستقيمه اغيزه لري

## که تاسو د ۱۸کلونو څخه کم د ژوند شریک لرئ

که ستاسو د ژوند شریک عمر د غوښتنلیک په وخت کې له ۱۸ کالو څخه کم وي نو ستاسو د ژوند شریک د (ARAP) سکیم لاندې د ژوند د شریک په توګه ور نه دی نو دوی به ونه شي کولی چې انګلستان ته راشي یا پاتې شي. حتی که ژوند شریک د کورنۍ اضافي غړی وي (لکه څنګه چې لاندې توضیح شوي)، که دوی د غوښتنلیک په نیټه د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولري، دوی نشي کولی د (ARAP) لاندې د ژوند د شریک په توګه د ملاتړ یا بیا مېشته کېدو حق ولري.

که تاسو او ستاسود ژوند شریک هغه وخت واده کړئ کله چې تاسو یو یا دواړه د ۱۸ کلونو څخه کم وئ، مګر اوس تاسو دواړه د ۱۸ کالو یا پورته یاست، ستاسو واده به یوازې په هغه صورت کې پېژندل کېږي چې:

- واده په هغه هیواد کې د اعتبار وړ و چې ترسره شوی و؛ او
- تاسو او ستاسو د ژوندشریک قانوني ورتیا درلوده د واده لپاره د هغه هیواد د قانون له مخې چې تاسو په کې واده کړی و.

## که تاسو یا ستاسو د ژوند شریک امیندواره وي

یو ماشوم چې د (ARAP) غوښتنلیک څخه وروسته زیږیدلی وي د (ARAP) سکیم لاندې به په پام کې ونیول شي لکه چې دوی د غوښتنلیک په نیټه زیږیدلی وي که چیرې لاندې شرایط پوره کړئ شي:

- تاسو مخکې له دې چې ماشوم زیږیدلی وي د (ARAP) لاندې درخواست کړی؛
- که تاسو د ماشوم پلار یاست نو د ماشوم مور د کورنۍ غړې یا د کورنۍ اضافي غړې په توګه په غوښتنلیک کې شامله شوې وه؛
- تاسو او (که تاسو د ماشوم پلار یاست) د ماشوم مور انګلستان ته د مېشته کېدیدلو لپاره وړ وګڼل شوي په شمول د هغه وخت چې دا پریکړه د ماشوم له زیږېدنې دمخه شوې وه؛ او
- د غوښتنلیک پروسه او د (ARAP) د کډوالۍ مقررات د انګلستان ته د ځای په ځای کېدو لپاره پوره کېږي.

### ۱,۳ د (ARAP) کټګورۍ

د (ARAP) د قضیو څلور بېلابیلې کټګورۍ شتون لري. په انګلستان کې د څلورو کټګوریو څخه د دریو لپاره د ځای پرځای کېدو امکان شتون لري.

| کټګورۍ | د مرستې وړاندیز شوی |
| --- | --- |
| ۱ کټګورۍ - یو جګ یا نږدې خطر شتون لري | عاجل لیږد |
| ۲ کټګورۍ - تاسو یو څرګند معنی لرونکی فعال رول ترسره کړی | منظم لیږد |
| ۳ کټګورۍ - د لوړ او احتمالي خطر سره د دندې درلودل | د نورو مرستو چمتو کول |
| ۴ کټګورۍ - په ځانګړو شرایطو کې قضیې | قضیه د قضیې ارزونه |



## ۱ کټګوري

### یو جګ یا نږدې خطر شتون لري

دا کټګوري پلی کېږي که په هر وخت کې د ۱ اکتوبر۲۰۰۱ راهیسې:

د شواهد و مثالونه: ستاسو د کار قرارداد،
ستاسو د کار عکسونه یا د همکارانو تر منځ
لیکونه یا بریښن الیکونه.

(الف) تاسو په مستقیم ډول په افغانستان کې د انګلستان د حکومت د یوې
څانګې لخوا استخدام شوي یاست (د بیلګې په توګه د دفاع وزارت، بهرنیو
چارو وزارت او
داسې نور)؛ او

د شواهدو مثالونه: د طالبانو ګواښ لیکونه یا
پیغامونه (د شپې د ګواښ لیکونو (شبنامې)
په شمول)، ستاسو په وړاندې د فزیکي
تاوتریخوالي عکسونه یا ویډیوګانې لکه د طالب
افسرانو ویډیوګانې چې تاسو ته زیان رسوي یا
ستاسو د ټیپي کیدو عکسونه

(ب) ستاسو ژوند ته نږدې او جګ خطر شتون لري څکه چې تاسو دا دنده
ترسره کړې. پدې کې کیدای شي د بیلګې په توګه، فزیکي تاوتریخوالی یا
تهدید د هغه رول له امله چې تاسو یې د انګلستان د حکومت په څانګه
کې لرئ، یا مو مخکې درلوده.

---

## ۲ کټګوري

### تاسو یو څرګند معنی لرونکی فعال رول ترسره کړی

دا کټګوري ۱د اکتوبر ۲۰۰۱ راهیسې په هر وخت کې پلې کیږي:

د شواهدو مثالونه: ستاسو د کار قرارداد، هر
هغه راپورونه چې تاسو د خپل کار د یوې
برخې په توګه تولید کړي چې تاسو لا تر اوسه
ورته لاسرسی لرئ، ستاسو د کار عکسونه، د
همکارانو ترمنځ لیکونه یا بریښنالیکونه یا
ستاسو د ګمارونکي لخوا چمتو شوي د روزنې
برې لیکونه.

(الف) تاسو په مستقیم ډول په افغانستان کې د انګلستان د حکومت لخوا
استخدام شوي یاست، یا د انګلستان د وسلو والو ځواکونو په ملاتړ کې د ژبنې
خدماتو (د مثال په توګه ژباړونکي) د چمتو کولو لپاره ګمارل شوي یاست؛

د شواهدو مثالونه: دانګلستان حکومت پالیسي یاد
ستراتیژۍ سندونه چې ستاسو د کار په ساحې پورې
اړه لري.

(ب) که تاسو دا رول نه وای ترسره کړی، په افغانستان کې به د برتانیې عملیات
په مادي لحاظ لږ اغیزمن یا بریالي شوي وای. په بل عبارت، تاسو باید دا وښایئ
چې ستاسو رول په افغانستان کې د انګلستان په عملیاتو کې مرسته کړې؛ او

د شواهدو مثالونه: عکسونه یا د ورځپاڼو
کلیپونه چې دا وښيي چې ستاسو دنده ستاسو
په سیمه ایزه ټولنه کې ښه پیژندل شوې یا
لیکونه/پیغامونه چې ستاسو د دندې له امله
تاسوته تاوتریخوالی یا ګواښ په کې شامل
وي دي (د شپې د ګواښ لیکونو (شبنامې) په
شمول.

(ج) تاسو په عامه توګه د دندې ترسره کولو په توګه پیژندل شوي او په پایله کې
ستاسو شخصي خوندیتوب په خطر کې دی.

## ۳ کټګورۍ

### تاسو په ۱ یا ۲ کټګورۍ کې نه راځئ، مګر د ځای پر ځای کولو پرته د مرستې حق لرئ.

دا کټګورۍ پلي کیږي که تاسو د۱ یا ۲ کټګورۍ لپاره وړ نه یاست ځکه چې ستاسو ژوند ته لوړ او نږدې خطر شتون نلري او/یا تاسو څرګند او معنی لرونکی فعال رول نه درلود. که تاسو پدې کټګورۍ کې راشئ نو تاسو د ځای په ځای کیدو وړ نه یاست مګر تاسو د نور ملاتړ لپاره وړ یاست. د دې لارښود په پای کې د (نورو سرچینو) برخه وګورئ.

---

## ۴ کټګورۍ

### ستاسو قضیه په ۱ یا ۲ کټګورۍ کې نه راځي، مګر ځانګړي فکتورونه شته پدې معنی چې تاسو لاهم د ځای په ځای کولولپاره مستحق یاست.

که تاسو په ۱-۲ کټګوریو کې نه راځئ، تاسو بیا هم د ځای پرځای کیدو مستحق یاست که تاسو ځینې معیارونه پوره کړئ. دا کټګورۍ پلي کیدی شي چیرې چې ستاسو د غوښتنلیک په ملا تړ ځانګړي عوامل موجود وي، په هرصورت، د دې کټګورۍ ثابتول ستونزمن دي او تاسو باید لاندې لست شوي درې معیارونه پوره کړئ:

(الف) تاسو باید دا وښایئ چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر له لومړۍ نیټې راهیسې په هر زمان کې تاسو په افغانستان کې

(۱) په مستقیم ډول د انګلستان د حکومت لخوا په کار ګمارل شوي یاست، یا

(۲) تاسو د انګلستان حکومتی څانګو ته خدمات یا توکي برابر کړي (د مثال په توګه، د ژباړې خدمتونه)، یا

(۳) تاسو د انګلستان د حکومت له یوې اداري سره په ګډه کار کړی، یا مو له نږدې ملاتړ کړی؛ او

د شواهدو مثالونه: ستاسو د کار قرارداد، هر هغه راپورونه چې تاسو د خپل کار د یوې برخې په توګه تولید کړي چې تاسو لا تر اوسه ورته لاسرسی لرئ، ستاسو د کار عکسونه یا د همکارانو تر منځ لیکونه یا بریښنالیکونه

(ب) تاسو باید دا هم وښایئ چې د دې دندې یا کار په جریان کې، تاسو په افغانستان کې د انګلستان حکومت نظامي اهدافو، یا د انګلستان حکومت د ملي امنیت اهدافو(د مثال په توګه، د تروریزم سره مبارزه، د فساد سره مبارزه، د مخدره توکو سره د مبارزې موخې، او داسې نور) سره دپام وړ او مثبته مرسته ګړې؛ او

د شواهدو مثالونه: د شاهدانو بیانونه (ستاسو د کار ګمارونکي یا پخوانیو همکارانو څخه) چې په تفصیل سره د کار ډول تشریح کړي، ستاسو رول او تاسو څنګه د انګلستان همکارانو یا څانګو سره کار کړی، د انګلستان د همکارانو لخوا د ملاتړ لیکونه چې تاسو د کار ډول تایید کړي. د انګلستان د حکومت د پالیسۍ اسناد دهغو اهدافو اړوند چې تاسو د خپلې دندې د یوې برخې منحیث د هغو د ترلاسه کولو لپاره کار کړئ.

(ج) د دې دندې یا کار له امله، تاسو د برید یا د مړینې یا جدي ټپي کیدو لوړ خطر کې یاست. یا هم، تاسوسره داسې معلومات شته چې د انګلستان حکومت یا د هغې ګټو ته یو ځانګړي ګواښ رامینځته کولئ شي.

د شواهدو مثالونه: د هرې پیښې یا ګواښ په اړه د شاهدانو بیانات (ستاسو د ګمارونکي یا پخوانیو همکارانو لخوا)، د ګواښ لیکونه (د شپې د ګواښ لیکونو (شبنامې) په شمول) یا د خطر په اړه د (برتانیې) همکارانو لیکونه.

## ۲ څپرکی

# دغوښتنلیک د چمتوکولو او سپارلو څرنګوالی

### ۲٫۱ د غوښتنلیک د چمتو کولو پروسه

د (ARAP) لاندې درخواست کولو لپاره، تاسو باید د غوښتنلیک فورمه آنلاین ډکه کړئ. دا فورمه دلته شتون لري. د ځمونې په توګه، د بشپړ غوښتنلیک د فورمې یوه کاپي په ضمیمه ۱ کې موندل کیدی شي مګر تاسو باید فورمه د پورته لینک په تعقیب آنلاین ډکه کړئ.

تاسو باید د غوښتنلیک تر څنګ اسناد هم ورکړئ.

**لکه څنګه چې د معلوماتو اواسنادو راټولول وخت نیسي، تاسو باید ژر تر ژره د خپل غوښتنلیک د ملاتړ لپاره د اسنادو راټولول پیل کړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې آنلاین فورمه خوندي کیدی او بیاکتل کیدی نشي، نو تاسو باید چې دا په یوه وار کې بشپړه کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل غوښتنلیک پیل کولو دمخه لاندې لیست شوي معلومات راټول کړئ.**

### اسناد او توضیحات چې تاسو باید د غوښتنلیک د فورمې لپاره ولرئ دا دي:

بشپړ نوم ( هر ډول چې ستاسو پاسپورت یا د پیژندنې اسنادو کې لیکل شوی وي ). که تاسو پاسپورت اویا د پیژندنې اسناد نلرئ خپل نوم هر ډول یې چې املا غوره کنئ ولیکئ.

- د پلار بشپړ نوم
- ستاسو بریښنالیک آدرس
- ستاسو د اړیکو(ټیلیفون) شمیره
- ستاسو اوسنی د اوسېدنې ځای
- ستاسو سره د کورنۍ د غړو شمیر
- که تاسو د (ARAP ۴) کټګورۍ لاندې غوښتنلیک ور کوئ
- ستاسو د اوسنۍ یا پخوانۍ دندې د فعالیت حوضه یا سکتور

که څه هم دا لازمي نه ده، خو که ستاسو سره بعضی لاندې معلومات وي نو په خپل غوښنلیک کې یې اضافه کړئ:

- (USL, CISS) شمیره یا د کارمندانو شمیره
- د تذکرې شمیره او
- د پاسپورت شمیره

یوځل چې تاسو د غوښتنلیک فورمه و سپارئ، د (DARR) ټیم (د دفاع په وزارت کې یو ټیم) به ستاسوغوښتنلیک وڅیړي او ستاسو وړتیا به وګوري. احتمالا به تاسو څخه وغوښتل شي چې د خپل رول په اړه نور معلومات چمتو کړئ، په شمول دې:

- د وظیفې د عنوان کاری حوزه یا سکتور
- ایا تاسو په مستقیم ډول د انګلستان حکومت لخوا استخدام شوي یاست
- ستاسو د ګمارونکي توضیحات
- د کار د پیل نیټه
- ایا تاسو لاهم په کاربرحاله یاست
- که نه، ستاسو د کار پرېښودلو دلیل، او
- ستاسو د کار ځای یا محل چېرې و.

یوځل چې ستاسو وړتیا تایید شي، د (DARR) ټیم به تاسو سره اړیکه ونیسئ او له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د کورنۍ غړي (او د کورنۍ اضافي غړي) تایید کړي چې تاسو سره کډه کېږي. تاسو باید د کورنۍ د دې غړو توضیحات ورکړئ ، لکه د دوی نومونه ، د زیږدنې نیټه ، د اړیکو ډول اود خطرونو اندازه ، او په انګلستان کې د استوګنې د اړتیاو پورې اړوند معلومات. تاسو باید هغه له معلوماتو سره چې د انګلستان حکومت لخوا غوښتل شوي دي د ٤٢ ورځو په جریان کې ځواب ورکړئ. که تاسو په ٤٢ ورځو کې ځواب ورنکړئ، ستاسو غوښتنلیک رد کیدی شي. که تاسو د ۴ کټګورۍ لاندې غوښتنه کوئ ، د دې لپاره چې تاسو د ۱ یا ۲ کټګورۍ اړتیاوې نه پوره کوئ او تاسو ځای په ځای کولو ته اړتیا لرئ ، نو دا به ګټور وي چې د خپل غوښتنلیک له فورمې سره یو بیان هم وسپارئ کوم چې د ستاسو د شرایطو په اړه اضافي معلومات وکړي.

په ضمیمه ۲ کې یوه نمونه شامله ده که تاسو غواړئ تر کار واخلئ.

## ۲،۲ د ردولو دلایل[۲]

تاسو یا ستاسو کورنۍ غړي ممکن اجازه ونلري چې انګلستان ته کډه شي که چیرې دوی د ردولو لپاره کوم دلیل رامینځته کړي. د ردولو دلیلونه د انګلستان د کډوالۍ د مقرراتو لاندې دلایل دي چې ټاکل شوي دي او د ځای په ځای کیدو غوښتنلیکونه په اوتومات ډول رد کېدلئ شي په دې کې عموما د جدي جنايي جرمونو ترسره کول شامل دي[۳]، په ډیرو قضیو کې د امکان لړ دی مګر تاسو باید له دې څخه خبر اوسئ. ځینې د ردولو دلیلونه په اتوماتیک ډول دي ، چې که په دې شرایطو کې راشئ نو تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي به ونشي کولائ چې انګلستان کې ځای پر ځای یا پاتې شي. لاندې دلایل په دې کې شامل دي:

چیرې چې تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړی:

**جرم**

- په جرم محکوم شوی (په انګلستان یا بهر کې) او د ۱۲ میاشتو یا ډیرمودې لپاره په بند محکوم شوی؛
- یو دوامداره مجرم دی چې قانون ته ځانګړی بې احترامي ښکاره کړې وي؛
- یو جنايي جرم ترسره کړی وي چې جدي زیان یې اړولی وي.

**فریب**

تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي په غوښتنلیک کې فریب کارولی (د بیلګې په توګه په غوښتنلیک کې هغه بیانونه شامل دي چې حقیقت پټوي)؛

نور د انکار نور دلیلونه اتومات نه دي[۴] مګر کولی شي تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي (که د تطبیق وړ وي) انګلستان ته د ننوتلو یا پاتې کیدو څخه بې برخې کړي. پدې کې هغه شرایط شامل دي چیرې چې:

**جرم**

تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړی په یو جرم محکوم شوی (په انګلستان یا بهر کې) اوپه نتیجه کې یې د ۱۲ میاشتو یا کمترمودې لپاره په بند محکوم شوی.

**د دروغو / غلط واده**

تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي په یوه جعلي واده یا د مدني پارټنرشیپ کې ښکیل وئ (په دې معنی چې دا اړیکه د کډوالۍ د دلیلونو لپاره د دوو کسانو لخوا جوړه شوې چې په اصل کې یوه جوړه ندي)؛ یا

**غلط بیانونه**

تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي غلط بیانونه ورکړي یا د غوښتنلیک په اړه غلط اسناد یا معلومات چمتو کړي، د دې لپاره چې انګلستان ته د ننوتلو غوښتنلیک یا معلوماتو ملاتړ وکړي حتی که تاسو/ دوی نه پوهیدل چې دا بیانونه، اسناد یا معلومات غلط دي.

2 Immigration Rules ARAP 2.1
3 Immigration Rules Part 9: Grounds for Refusal
4 Immigration Rules Part 9: Grounds for Refusal and Immigration Rules Part 11: Asylum

# د کورنۍ غړي چې ور دید

د کورنۍ کوم غړي کولی شي د (ARAP) لاندې ځای په ځای شي

**واجد شرایط افراد**

ستاسو مور او پلار

ستاسو ماشومان د ۱۸ کلونو څخه کم عمر لري

ستاسو د ملګري ماشومان د ۱۸ کلونو څخه کم دي

**د شمولیت معیارونه**

په لومړني غوښتنلیک کې شامل شوي

یوازې یو ملګری کولی شي درخواست وکړي

د کورنۍ د نورو غړو لپاره ٤ خپرکی وګورئ

**څوک د ماشوم په توګه ورتیا لري؟**
**ماشوم معیارونه**

**د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولرئ**

واده شوی نه دی

خپلواکه کورنۍ نه لري

په والدینو تکیه وکړئ

د منلو معیارونه

**انګلستان ته د تللو لپاره دمخه منل شوي او نوي ندي منل شوي؛**

د غوښتنلیک سپارلو دمخه د ۱۲ میاشتو لپاره یوځای ژوند کړی

د والدینو رول په پام کې نیول شوی دی

د نورو ماشومانو په څیر ورته چلند

د اصلي کورنۍ (ماشوم) سره اړیکه لا دمخه له لاسه ورکړې ده

**څوک د سکیم (ARAP) لاندې د شریک په توګه ور دی؟**

**د میړه / ملګري معیارونه**

۱۸+ کلن

د کورنۍ نږدې غړی نه دی

په شخصي توګه ولیدل

دوامداره او ریښتیني اړیکه

په انګلستان کې د دایمي ژوند کولو اراده لري

**د اسنادو سپارل**

د واده / زیږون سند

یادونه

د واده / کورنۍ عکسونه

د کورنۍ د غړو څخه بیان

بیانیه از اعضای فامیل

**د (ARAP) ټیم د هر ډول بدلونونو څخه خبر وساتئ.**

## ۳,۱ د کورنۍ کوم غړي کولی شي د (ARAP) لاندې ځای په ځای شي[5]؟

که تاسو د (ARAP) لاندې ور یاست، ستاسو غوښتنلیک یوازې دلاندې د کورنۍ غړي شاملولی شي:

- ستاسو پارټنر (دژوند شریک) (څوک د ژوند شریک ګڼل کېږي لاندې تشریح شوي)؛
- ستاسوهغه ماشومان چې د ۱۸ کلونو څخه کم وي؛ او
- ستاسو د ژوند د شریک ماشومان چې د ۱۸ کلونو څخه کم وي.

د کورنۍ ټول غړي چې ستاسو سره ځای پرځای کیدل غواړي باید د درخواست په وخت کې په غوښتنلیک کې شامل شي که تاسو دوی په اصلي غوښتنلیک کې شامل نه کړئ، وروسته به دوی د (ARAP) لاندې په پام کې ونه نیول شي.

که تاسو له یو څخه ډیر پارټنریا د ژوند شریک لرئ، یوازې ستاسو یو د ژوند شریک کولی شي انګلستان ته د راتلو یا پاتې کیدو لپاره غوښتنه وکړي.

که تاسو خپل مور او پلار، وروڼه یا د کورنۍ نور غړي هم شامل کړئ، دوی به د کورنۍ د اضافي غړو پالیسۍ لاندې په پام کې ونیول شي. د نورو معلوماتو لپاره ۴ څپرکې وګورئ.

## ۳,۲څوک د (ARAP) لاندې د ژوند شریک په توګه ګڼل کېږي[6]؟

یو د ژوند شریک/ پارټنر کیدای شي ستاسو میرمن، ستاسو میړه، ستاسو مدني شریک یا هغه څوک وي چې تاسو د غوښتنلیک ورکولو دمخه لږ تر لږه دوه کاله د واده په څیر اړیکه کې له یو بل سره ژوند کړئ وي. هر داسې پارټنر باید:

- د غوښتنلیک په نیټه کې ۱۸ کلن یا ډېر عمر ولري؛ او
- د کورنۍ نږدې خپلوان نه وي (نیا/ نیکه، مور او پلار، خویندې او ورونه اصلي یا له بل مور او پلار نه، ماشوم، وراره/خوریې یا وریره/خورزه ، یا پالونکي (فرزندي) والدین اوماشومان)؛ او
- تاسو په شخصی توګه لیدلي وي؛ او
- له تاسو سره په ریښتیني او دوامداره اړیکه کې اوسي؛ او
- تاسو باید په انګلستان کې له یو بل سره د دایمي ژوند کولو اراده ولرئ.

## ۳,۳ څوک د (ARAP) لاندې د ماشوم په توګه ګڼل کېږي[7]؟

یو 'ماشوم' کیدی شي د غوښتنلیک په نیټه د ۱۸ کلونو څخه کم وي چې د لاندې کټګوریو لاندې راځي:

- ستاسو او ستاسو د ژوند دشریک/ پارټنر (لکه څنګه چې پورته تعریف شوی) ماشوم؛ یا
- ستاسو ماشوم او د ماشوم بل والدین مړدي یا تاسو د ماشوم د لویولو یوازینۍ مسؤلیت لرئ؛ یا
- ستاسو د ژوند د شریک ماشوم چې بل والدین مړه دی یا ستاسو پارټنر د ماشوم د لویولو یوازینۍ مسؤلیت لري؛ یا
- ستاسو یا ستاسو ژوند د شریک فرزندي ماشوم (لاندې د فرزندي ماشومانو په اړه اضافي توضیحات وګورئ)

**هر داسې ماشوم باید:**

- واده نه وي او یا په مدني پارټنرشیپ کې نه وي؛
- خپله کورنۍ یې نه ده جوړه کړې (د بیلګې په توګه خپل کور یې پرېښئ وي چې د پارټنر سره ژوند وکړي، خپل ماشومان ولري)؛ او
- اوس هم په خپلو والدینومتکي کوي (د بیلګې په توګه دوی عایدات نه لري، د کورنۍ څخه جلا ژوند نه کوي).

5 Immigration Rule ARAP 10.2
6 Immigration Rule ARAP 11
7 Immigration Rule ARAP 12

### ۳.۴ څوک د (ARAP) لاندې د یو فرزندي ماشوم په توګه منل کېږي؟[8]

که تاسو یو منل شوی ماشوم لرئ، هغه ماشوم کولی شي د (ARAP) لاندې ستاسو د خپل ماشوم په توګه غوښتنه وکړي که چېرې ماشوم له دې څخه یو ولري. په رسمي ډول ستاسو د اصلي هیواد محکمې سره سم منل شوی (او دا منل د انګلیسي قانون سره سم پېژندل شوي) یا په حقیقت کې منل شتون لري.

د "ګول شوي ماشوم" سره د یوځای کېدو لپاره درخواست کولو لپاره، تاسو (کله چې تاسو د ماشوم مسؤلیت لرئ) یا تاسو او ستاسو ملګري،

دوی باید لږترلږه د ۱۸ میاشتو لپاره بهر پاتې شي او:

- د درخواست کولو دمخه، ماشوم باید ستاسو یا تاسو او تاسو سره سمدلاسه د ۱۲ میاشتو لپاره ژوند کړی وي
- تاسو یا ستاسو میړه باید د دې دورې له پیل څخه د ماشوم د مور او پلار رول په غاړه اخیستی وي.

د پورتنیو ټکو پر سربېره ، فرزندي ماشوم سره باید:

- تاسو یا ستاسو پارټنرد ورسره نورو ماشومانو په څېر چلند وکړي؛ او
- په فرزندي نیول شوی دي ځکه چې د ماشوم مور او پلار نشي کولی د دوی پالنه وکړي؛ او
- له خپلې اصلي کورنۍ سره یې ټولې اړیکې پرې کړې؛ او
- یوازې د دې لپاره په فرزندي نه ده نیول شوی چې وکولی شي انګلستان ته لاره پیدا کړي.

### ۳.۵ کوم اسناد باید چمتو شي؟

کله چې تاسو درخواست کوي او په خپل غوښتنلیک کې خپل د ژوند شریک او/یا خپل ماشومان شاملوئ، دا به ښه وي چې تاسو اسناد چمتو کړئ تر څو دا ثابته کړي چې دوی ستاسو د ژوند شریک او/یا ماشومان دي، د پورتني توضیحاتو سره سم. د اړیکو د ثبوت اصلي لاره به ستاسو د واده سند، د زیږېدنې سند او تذکرې وي.

په لومړني غوښتنلیک کې، د دې ښودلو لپاره هیڅ شواهدو ته اړتیا نشته، مګر که تاسو د سکیم لاندې ومنل شئ نو له تاسو به د دې اسنادو

غوښتنه وشي. که تاسو دا اسناد نلرئ، په پام کې ونیسئ چې کوم بل سند شتون لري چې تاسو یې کارولی شئ، لکه ستاسو د واده عکسونه یا د کورنۍ نور عکسونه یا ستاسو د کورنۍ د غړو بیانونه، او یا دا چې ایا تاسو په خوندي ډول کوم اسناد ترلاسه کولی شئ چې اړیکه ثابتوي. د نورو جزیاتو لپاره ۵ څپرکۍ وګورئ.

### ۳.۶ د (ARAP) د غوښتنلیک د پروسې په جریان کې د غوښتونکي په کورنۍ کې بدلونونه

که، د خپل (ARAP) غوښتنلیک سپارلو وروسته، تاسو واده کوئ یا مو ماشوم پیدا کېږي، تاسو باید ژر تر ژره د(ARAP) ټیم سره اړیکه ونیسئ.

8 Immigration Rules 309A – 311

## ۴ څپرکی

# د کورنۍ اضافي یا نورغړي

که تاسو د (ARAP) له لارې انګلستان ته د ځای په ځای کیدو وړ یاست، تاسو کولی شئ د کورنۍ ځینو اضافي غړو لپاره هم انګلستان ته د تګ لپاره غوښتنه وکړئ. د کورنۍ اضافي غړي به د (ARAP) د کډوالۍ د اصلي مقرراتو لاندی ( د کورنی د اضافي یا نورو غړو قواعد یا د (AFM) قواعد) په نظر کې ونیول شي. د کورنۍ غړي چې ستاسو د (ARAP) په غوښتنلیک کې شامل نه دي بیا هم کولی شي د (ARAP) لاندې انګلستان ته د راتلو لپاره غوښتنه وکړي، او د [(ARAP) د مهاجرت له قواعدو څخه به بهر په استثنایي توګه په پام کې ونیول شي](#).

د ۴ څپرکی معلومات د کورنۍ په اضافي غړو پورې اړه لري، په بل عبارت د کورنۍ غړي چې د (ARAP) لاندې د ځای پرځای کېدو مستحق ندي چې پورته په ۳ څپرکی کې توضیح شوي. د کورنۍ د اضافي غړو مثالونه د (ARAP) د درخواست کوونکي بالغ والدین ، بالغ اولادونه او بالغ خویندې/ ورونه دي.

### ۴.۱ د (AFM) قواعدو سره سم د درخواست شرایط

د کورنۍ مستحق اضافي غړی[9] د (AFM) له مقرراتو سره سم، تاسو کولی شئ د کورنۍ د هر هغه غړي لپاره غوښتنه وکړئ کوم چې د ۱۸ څخه د کم عمر لرونکي پارټنر یا اړونده ماشوم نه وي ترڅو تاسو سره د ځای پرځای کیدو اجازه ورکول شي. ۳ څپرکی د نورو جزیاتو لپاره وګورئ چې څوک د د تاسو د ژوند شریک او اړونده ماشومانو په حساب کې راځي. د کورنۍ غړی باید ستاسو یا ستاسو د پارټنر خپلوان وي. د کورنۍ غړی نشي کولی یو بل یا اضافي د ژوند شریک وي.

دوی باید لاندې لست شوي یو یا دواړه معیارونه هم پوره کړي:

(الف) ستاسو د کار په پایله کې د انګلستان حکومت سره، ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید د هدفي بریدونو، ځانګړي ګواښونو یا ډارولو لوړ خطر سره مخ وي. چې دوی د مرګ یا جدي ټپي کیدو لوړ خطر کې اچوي؛ یا

(ب) ستاسو د کورنۍ غړی اضافي زیانمنتیاوې لري او لاندې شرایط پوره کوي:

(۱) ځانګړې زیانمنتیاوې شته چې ستاسو د کورنۍ غړي ور سره مخ دي؛

(۲) دا ځانګړې زیانمنتیاوی د دې لامل شوی دی چې دوی تاسو ته په غیر معمولي کچه محتاج دي؛

(۳) ستاسو د کورنۍ غړي به په افغانستان کې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب د ترلاسه کولو توان ونلري. او

یا هم:

(۴) د دلیل چې ولې ستاسو د کورنۍ غړي نشي کولی په افغانستان کې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب ترلاسه کړي څکه چې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب شتون نلري اوهلته هیڅ څوک نشته چې په معقول ډول یې چمتو کړي. یا

(۵) د دلیل چې ولې د کورنۍ غړي نشي کولی په افغانستان کې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب ترلاسه کړي څکه چې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب کچه په مناسب لګښت نه ده

که د کورنۍ اضافي غړی یو ماشوم دې چې پرته له خپلو والدینو غوښتنه کوي د کورنۍ د اضافي غړي په توګه، ځینې نور معیارونه شتون لری چې دا دي:

(الف) تاسو یا ستاسو د ژوند شریک باید د دوی قانوني سرپرست وي یا

(ب) د دوی مور او پلار یو باید په انګلستان کې اوسېګي چې یا برتانوي وي یا په انګلستان کې پرته له کوم محدودیت څخه د اوسیدو حق ولري یا

(ج) باید (جدي او قانع کونکي دلایل) وي چې د دوی ستاسو او ستاسو د ژوند شریک سره یوځای کیدو لپاره غوښتنلیک ومنل شي. د (جدي او قانع کونکو دلایلو) یوه بیلګه کیدای شي یو ماشوم وي چې د خپل بیولوژیکي والدینو څخه جلا شوی وي او په عملي توګه (که څه هم په رسمي توګه نه وي) د (ARAP) د اصلي غوښتونکي لخوا په فرزندي نیول شوی وي

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د (ARAP) ټیم د دې سکیم لاندې د کورنۍ اضافي غړو لپاره غوښتنلیکونه په خورا باریکۍ ګوري. که ستاسو د کورنۍ اضافي غړي په دې ۴ څپرکي کې ټاکل شوي معیارونه پوره نه کړي، نو دا امکان نلري چې ستاسو د کورنۍ غړي به ومنل شي.

9 Immigration Rule 13

## نور قانع کونکي دلایل

د دې لپاره چې ستاسو غوښتنلیک د کورنۍ د اضافي غړو لپاره بریالي شئ تاسو باید د امنیتي اندیښنو یا اضافي زیانمنتیاو شواهد وښایئ چې پورته ذکر شوي.

که تاسو یوازې په خپله د ماشوم لپاره غوښتنه کوئ نوبیا هم (جدي او قانع کونکي دلایل) وړاندې کړئ چې ولې دوی باید ستاسو سره وي.

د کورنۍ د ټولو غړو لپاره دا د دې ارزښت لري چې (ریښتیني، تایید وړ، قانع کونکي دلایل) شامل کړئ چې ستاسو د کورنۍ غړی باید ستاسو سره ځای په ځای شي.

د (جدي او قانع کونکي دلایل) یوه بېلګه به دا وي چې ماشوم ته اوس مهال پاملرنه نه کېږي یا ناوړه چلند ور سره کیږي او اوس مهال د دوی اړتیاوې نه پوره کیږي.

## د خوندیتوب لپاره لوړ خطر

د کورنۍ د اضافي غړي غوښتنلیک باید چې وښیې چې دوی د هدفي بریدونو 'لوړ خطر' سره مخ دي، ځانګړي ګواښونه یا ویره چې دوی د (مرګ یا جدي ټپي کیدو) خطر سره مخ کوي، دا یوازې هغه وخت په پام کې نیول کیږي چې ریښتیني او د تایید وړ دلیلونه وي چې ستاسو د کورنۍ د غړي خوندیتوب او امنیت د ستاسو انګلستان حکومت له اداري یا واحد سره د دندې په پایله کې ده.

له هغه دولتي څانګه یا واحد چې تاسو ورسره کار یا همکاري کړې ده غوښتنه کېږي چې دوی دا وارزوي چې ایا ستاسو کار ستاسو د کورنۍ اضافي غړي له خطر سره مخ کړي. د لاملونو ځینې مثالونه په لاندې ډول دي:

- که ستاسو د کار په پایله کې ستاسو د کورنۍ غړي ته ځانګړي ګواښونه یا ډارول شوي وي. د مثال په توګه، تاسو یا ستاسو د کورنۍ اضافي غړي ممکن د برتانیا له حکومت سره ستاسو د کار په پایله کې د طالبانو لخوا ګواښونکي لیکونه یا تلیفونونه ترلاسه کړي.
- که ستاسو د کورنۍ نور غړي ستاسو د کار په وجې د کور په کور پلټنو له لارې په نښه شوي وي او په پایله کې له طالبانو څخه پټ وي.

خطر باید مختص د کورنۍ اړوند غړي ته وي او باید ستاسو وظیفې پورې اړه ولري چې د بریتانې دولت سره مو کړې و.

## ځانګړی زیانمنتیا او وابستګی

د کورنۍ د اضافي غړي غوښتنلیک باید دا وښیې چې دوی ځانګړي زیان منتیاوې لري چې د هغه په پایله کې دوی په استثنایی ډول په کورنۍ پوری وابسته دي. د بېلګې په توګه، یوجدی صحی مشکل چې د هغه لپاره د کورنۍ اضافی غړی: (۱) درملنه نشی تر لاسه کولئ یا اوږد مهاله شخصي پاملرنې ته اړتیا لري، او (۲) له مالي لحاظه په تاسو تړلي وي. د دې د ثابتولولپاره طبي شواهدو ته اړتیا شته. حتی ستاسو د عملي او مالي مرستې سره، د کورنۍ اضافي غړی باید ونه توانیږي چې د انګلستان څخه بهر اړینه پاملرنه یا خوندیتوب ترلاسه کړي - یا دا چې دا په مناسب لګښت نده یا دا چې شتون نلري او بل څوک نشي کولی په معقول ډول یی چمتو کړي.



## ۴.۲ د کورنۍ د اضافي غړو لپاره د غوښتنليک پروسه

### کله درخواست وکړئ

ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید ستاسو په لومړني د (ARAP) غوښتنلیک کې نومول شوي وي. که تاسو دا کار نه دی کړی او تاسو لاهم د ابتدايي پريکړې په تمه یاست، نو د (ARAP) ټيم سره ژر تر ژره اړیکه ونیسي چې په خپل غوښتنلیک کې د کورنۍ د اضافي غړو د شاملولو غوښتنه وکړئ.

یوځل چې ستاسو وړتیا تایید شي، تاسو به د (ARAP) ټیم سره مستقیم تماس ولرئ او د کورنۍ د غړو تصدیق کولو لپاره به وغوښتل شي چې ستاسو سره ځای په ځای شي، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی پدې پړاو کې ونومول شي د دې لپاره چې د (ARAP) لاندې درخواست ورکړي. موږ وړاندیز کوو چې تاسو د پروسې په اوږدو کې د امکان تر حده ژر تر ژره د خپلې کورنۍ اضافي غړو لپاره غوښتنه وکړئ.

### څوک درخواست کولی شي

غوښتنلیک باید ستاسو لخوا جوړ شي، د (ARAP) پې سکیم لاندې د وړغوښتونکي په ډول، نه ستاسو د کورنۍ د غړو یا بل چا لخوا. یو وکیل یا د قضیې کارکونکی ممکن ستاسو لپاره فورمه وسپاري (که تاسو یې لرئ)، مګر غوښتنلیک باید ستاسو په نوم جوړ شي.


### کله د کورنۍ اضافي غړي انګلستان ته سفر کولی شي

ستاسو د کورنۍ اضافي غړو ته باید انګلستان ته د سفر کولو دمخه د ننوتلو اجازه ورکړل شي. دا کیدای شي پدې معنی وي چې تاسواو ستاسو د کورنۍ غړی ممکن به په بلابیلو وختونو کې انګلستان ته راشئ.

که دوی د (AFM) قواعدو له مخې ومنل شي ستاسو د کورنۍ غړي سره به انګلستان د راتلو لپاره د ویزې په فورمه ډکولو کې مرسته وشي.

په هرصورت، اوس مهال، دا د افغانستان دننه نه شي کیدی. که ستاسو د کورنۍ غړي ومنل شي، دوی باید د انګلستان ټیم سره اړیکه ونیسي ترڅو په خوندي ډول یو دریم هیواد ته سفر وکړي چې له هغه ځي انګلستان ته انتقال شي.

که دوی نشي کولی په خوندي ډول اسناد ترلاسه کړي یا دریم هیواد پریږدي، دوی باید له (DARR) ټیم څخه مشوره وغواړي، چې د ویستلو سره مرسته کوي.



## ۵ څپرکی

# د شواهدو راټولول

که تاسو په دې لاربښود کې درج شوی شواهد نلرئ، **دا ستاسو د (ARAP) لاندې د درخواست کولو مخه نه نیسي**، په دې شرط چې تاسو تشریح کړئ چې ولې اسناد شتون نلري چې د شواهدو په توګه وړاندې شي.

ځینې مثالونه چې ولې تاسو ممکن شواهد ونلرئ په لاندې ډول دي:

- تاسو ته شاید هیڅکله دا اسناد نه وي صادر شوي؛
- تاسو ممکن د خپل خوندیتوب لپاره اسناد له منځه وړي وي. یا
- کله چې تاسو له افغانستان څخه ووتلئ ښایي هغه مو له ځانه سره نه وي وړي.

### ۵.۱ موضوع ته د لاسرسي دغوښتنه سپارل

که تاسو داسې اسناد نلرئ چې د انګلستان له حکومت سره ستاسو د کار ثبوت وي تاسو کولی شئ د انګلستان د دفاع وزارت، د بهرنیو چارووزارت، د کډو ګټوهېوادونو او د پراختیا دفتر ته د موضوع د لاسرسي غوښتنه (SAR)وسپارئ.

(SAR) ستاسو د شخصي معلوماتو یوه د کاپي غوښتنه ده. تاسو حق لرئ چې د خپلو شخصي معلوماتو یوه کاپي وغواړئ چې د انګلستان د سازمانونو لخوا ساتل کېږي (د انګلستان د حکومت په شمول) او همدارنګه د دې په اړه معلومات چې ستاسو شخصي معلومات څنګه کارول کېږي. ستاسو شخصي معلومات ستاسو په اړه هر هغه معلومات دي چې کولی شي تاسو په مستقیم ډول وپیژني (د بېلګې په توګه، ستاسو نوم، ستاسو د کار سندونه) یا په غیر مستقیم ډول (د بېلګې په توګه، ستاسو په اړه د حوالې شمیره یا ریفرینس نمبر).

د مثال په توګه، که تاسو د انګلستان د حکومت په یوې ځانګې کې کار کاوه، دوی ممکن ستاسو د مځکینۍ دندې یا د بریتانیا اردو یا د انګلستان حکومت سره د ښکیلتیا په اړه ریکارډونه ولري، لکه ستاسو د کار قرارداد یا سند، یا ستاسو سره یا ستاسو په اړه بریښنالیکونه یا پیغامونه. تاسو کولی شئ د (SAR) په سپارلو سره د دې معلوماتو غوښتنه وکړئ او دا ممکن ګټور شواهد وي چې تاسو کولی شئ د خپل (ARAP) غوښتنلیک د یوې برخې په توګه یې وسپارئ ترڅو وښیې چې تاسو د انګلستان د حکومت د یوې ځانګې لپاره کار کړی.

د (SAR) د سپارلو لپاره کومه رسمي پروسه شتون نلري او ضروري نه ده چې تاسو په انګلستان کې اوسئ چې یو (SAR) وسپارئ. تاسو کولی شئ پخپله (SAR) د بریښنالیک یا تلیفون له لارې وسپارئ او تاسو د دې لپاره وکیل ته اړتیا نلرئ. که تاسو غواړئ چې بل څوک ستاسو په استازیتوب (SAR) وسپاري، تاسوباید چې دوی ته لیکلې اجازه ورکړئ (د بیلګې په توګه په برېویښنالیک کې) چې ستاسو لپاره دا کار وکړي.

د انګلستان حکومت باید د یوې میاشتې په اوږدو کې تاسو ته بیرته ځواب در کړي او دوی ممکن د پژندنې سند او د پتې د سندغوښتنه وکړي ترڅووکولی شي تاسو تصدیق کړي. دوی باید تاسو ته تشریح کړي که دوی نشي کولی تاسو ته هغه شخصي معلومات درکړي چې تاسو یې غوښتنه کوئ او ولې. په یاد ولرئ چې د ځواب لپاره خپل سپیم یا جنک فولډر وګورئ.

د (SAR) د سپارلو څرنګوالي په اړه لاربښود ، اودا چې څه پکې شامل کړئ دلته موندل کیدی شي. لاربښود وړاندیز کوي چې لاندې معلومات په (SAR) کې شامل دي.

- د موضوع کرښه یا سرلیک چې وایي (موضوع ته د لاسرسي غوښتنه)؛
- هغه نیټه چې تاسو غوښتنه کوئ؛
- ستاسو نوم (او کوم بل نومونه چې اړونده وي، د بیلګې په توګه ستاسو نوم مخکې له دې چې تاسو واده کړی وي)؛
- ستاسو د بریښنالیک پته او د تلیفون شمیره؛
- ستاسو د کارمندانو شمیره، که تاسو یې لرئ؛
- کوم شخصي معلومات تاسو غواړئ. د هغه معلوماتو په اړه مشخص اوسئ چې تاسو یې غوښتنه کوئ او چېرې چې لازم وي ووایئ چې کوم معلومات ستاسو پکار ندي. دا به له سازمان یا د انګلستان دولت سره مرسته وکړي هغه معلومات پیدا کړي چې تاسو یې غواړئ. د بېلګې په توګه تاسو کولی شئ خپل کاری قرارداد راوغواړئ یا هم له تاسو سره یا ستاسو په هکله مکلمې.
- جزییات یا تاریخونه چې سازمان سره مرسته وکړي تر څوهغه معلومات چې تاسو یې غواړئ پیدا کړي. د بېلګې په توګه هغه تاریخ اضافه کړئ چې تاسو د انګلستان د دولت لخوا په کار ګمارل شوی یاست.
- هغه دلیل چې تاسو معلومات غواړئ. د بېلګې په توګه، دا چې تاسو د خپل غوښتنلیک لپاره د شواهدو سپارلو د هدف لپاره شخصي معلوماتو ته اړتیا لرئ؛ او
- تاسو څنګه غواړئ معلومات ترلاسه کړئ (د بیلګې په توګه په بریښنایي یا چاپ شوي او د پوست له لارې لیږل شوي) او که تاسو د لاسرسي خاصې اړتیاوې لرئ (د بیلګې په توګه لوی فونټونه)

تاسو کولی شئ دلته یو (SAR) د دفاع وزارت ته جوړ کړئ. تاسو کولی شئ د خپل (ARAP) غوښتنلیک د وضیعت د پوهېدلو لپاره هم د دفاع وزارت ته یو (SAR) وسپارئ.

که تاسو د انګلستان له حکومت سره کار کړی مګر د برتانیا له اردو سره نه، تاسو کولی شئ یو(SAR) د بهرنیو چارو وزارت ، د کډو ګټو هېوادونو او پراختیا دفترته د information.rights@fcdo.gov.uk بریښنالیک له لارې وسپارئ

### ۵.۲ د (ARAP) لاندې ستاسو د غوښتنلیک لپاره شواهد

د شواهدود مثالونو لپاره چې تاسو د خپل غوښتنلیک لپاره پکار دي ۱څېرکی وګورئ.

### ۵.۵ کورنۍ د غړو او د کورنۍ اضافي غړو لپاره شواهد

تاسو باید چې د خپلې کورنۍ د غړو د اړیکې له ځان سره ثبوت وړاندې کړئ او که تاسو د کورنۍ د اضافي غړي ته غوښتنه کوئ، د دې دلیلونو لپاره شواهد چې ولې د کورنۍ اضافي غړي باید ستاسو سره انګلستان ته کډه شي دا سپارښتنه کیږي چې تاسو په خپل غوښتنلیک کې د هر حقیقي بیان د ملاتړ لپاره شواهد شامل کړئ.

#### د کورنۍ د اړیکو ثبوت

تاسو باید د (ARAP) سکیم لاندې د غوښتونکي په توګه ځان سره د خپلې کورنۍ د غړي د اړیکې ثابتولو لپاره شواهد وړاندې کړئ د مثال په توګه، تاسو کولی شئ د زېږېدنې سندونه، د مړینې سندونه، د واده سندونه او نور چمتو کړئ. د امکان په صورت کې ، تاسو باید دا اسناد د تصدیق شوي ژباړونکي لخوا انګلیسي ته وژباړئ ځکه چې دا احتمال لري چې د (ARAP) ټیم د تصدیق شوي ژباړې غوښتنه وکړي که تاسو بریالي شئ.

که تاسو نشئ کولی دا اسناد چمتو کړئ، تاسو باید د غوښتنلیک په فورمه کې تشریح کړئ چې ولې تاسو اسناد نشي چمتو کولی او ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل شاهد په بیان کې د کورنۍ د هر غړي سره اړیکه تشریح کړې ده.

#### د خطر، زیانمنتیا اود قانع کونکو دلایلو شواهد

تاسو باید د قانع کونکو دلایلو شواهد وړاندې کړئ چې ولې تاسو باور لرئ ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید انګلستان ته کډه شي.

د امنیتي ګواښ د ثبوت لپاره، تاسو کولی شئ د اړونده ګواښونو او / یا ډارولو عکسونه، سکرین شاټونه ، ویډیو یا آډیو ریکارډونه چمتو کړئ.

دا مهمه ده چې کله د کوم امنیتي ګواښ څرګندونه کوئ دا ستاسو د انګلستان حکومتي اداري سره ستاسوله دندې او یا همکارۍ سره تړاو لري. تاسو کولی شئ د دې تشریح کولو لپاره د شاهد بیان شامل کړئ یا د برتانیا د کوم همکار څخه ملاتړي لیکونه چمتو کړئ څوک چې شاهدي ورکړي چې دا ګواښ ستاسو د کار سره تړاو درلود. د دې ثبوت لپاره چې ستاسو د کورنۍ غړی استثنایی زیان منتیاوی لري، تاسو کولی شئ طبي شواهد شامل کړئ، لکه د ډاکټر لیکونه چې د ملاقات یا تشخیص وي او یا د درملو نسخې. مخکینی لارښود کې وویل شو چې روغتیایي تکالیف یا د مریضي اسناد باید د طبي متخصص لخوا تشخیص او د روغتیاي شرایطو مشخصات او د دې اثر په شخص او په اړونده پاملرنې باندې وشي. د دې معلوماتو په شمول د ډاکټر لخوا یو لیک به ستاسو د غوښتنلیک سره مرسته وکړي.

د دې لپاره چې وښیي چې ستاسو د کورنۍ غړي نشي کولی په افغانستان کې په اړینه کچه پاملرنه یا محافظت ترلاسه کړي ځکه چې د پاملرنې یا محافظت کچه شتون نلري یا په مناسبه بیه نه وي او هیڅ څوک نشته چې په معقول ډول یې چمتو کړي، تاسو کولی شئ د مرستې طبي لیکونه چمتو کړئ که مناسب وي.

#### د شاهدانو بیانونه

تاسو ممکن د خپلې کورنۍ له غړي یا نورو اړوندو اشخاصو څخه وغواړئ چې د غوښتنلیک په ملاتړ کې د شاهد بیان چمتو کړي. د شاهد بیان کولی شي د شواهدو په توګه ګټور وي ترڅو وښیي چې هغه ځانګړي زیانمننې چې ستاسو د کورنۍ غړي ورسره مخ دي په استثنایی ډول یې دوی کورنۍ پورې وابسته کړې دي.

## ۵.۴ د شواهدومتداولې پوښتنې

### که زه رسمي اسناد نلرم چې د انګلستان حکومت سره زما کار وښيې؟

که تاسو رسمي اسناد نلرئ چې د انګلستان حکومت یا د دفاع وزارت سره ستاسو د کار ثبوت وي (یا تاسو غواړئ اضافي شواهد پکې شامل کړئ)، د مبارکۍ لیکونه یا د برتانیا د اردو همکارانو د کرسمس کارتونه، او نور کوم غیر رسمي اسناد چې کېدای شي ستاسو کار ثابت کړي هم ستاسو په غوښتنلیک کې شامل کیدی شي.

### که د کارمندانو شمیره نلرم څه وکړم؟

د کارمندانو شمیرې له ۲۰۰۶/۲۰۰۷ کالونو دمخه شتون نه درلود، نو که تاسو مخکې له دې تاریخ نه د انګلستان حکومت او یا د دفاع وزارت لپاره کار کړی وي تاسی دا شمیر نشی ورکولئ. د کارمندانو شمیره اوس محال د (ARAP) د غوښتنلیک فورمه کې اختیاري دی مګر که دا د (ARAP) او یا (DARR) د ټیم لخوا وغوښتل شي د (ARAP) د پروسې دیوې برخې په توګه ، تاسو باید تشریح کړئ چې دا شمیرې شتون نلري.

### که زه دوه د نشان شمیرې (بیج نمبرونه) ولرم نو څه وي؟

که تاسو د بیج دوه شمیرې لرئ، د بیس دننه د اغوستل شوي بیج توضیحات ورکړئ د بیس څخه بهر اغوستل شوي بیج پر ځای.

### که زه ونشم کولی خپل یا دخپلی کورنۍ دغړو لپاره کوم اسناد ترلاسه کړم؟

تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي به یو ډول د پژندنې اسنادوته اړتیا ولرئ. که تاسو د پېژندنې سند نلرئ، تاسو باید د یو لپاره غوښتنه وکړئ (د مثال په توګه د پاسپورټ یا تذکرې لپاره غوښتنه وکړئ). که تاسو هغه اسناد نلرئ چې د انګلستان حکومت لخوا یې غوښتنه کیږي نو تاسو باید تشریح کړئ چې ولې. د انګلستان حکومت پدې پوهیږي چې هرڅوک به ټولو غوښتل شوي اسنادو ته لاسرسی ونلري، مګر هرڅومره چې تاسو ډیر شواهد وړاندې کوئ، د خپل غوښتنلیک د بریالیتوب لپاره ډیر چانس لرئ.



## ۶ څپرکی

# ستاسو د (ARAP) غوښتنلیک له سپارلو وروسته

### ۶.۱ څرنګه خپل د (ARAP) غوښتنلی تعقیب کړئ

#### ستاسو د غوښتنلیک د حوالې شمیرې

ستاسو غوښتنلیک ته به د (ARAP) د ټیم لخوا د حوالې شمیره ورکړل شي

موږ پوهیږو چې:

- که د غوښتنلیک د حوالې شمېره په (ATAE) پیل شي، دا په دې مانا ده چې تر لاسه شوې ده. له هغې وروسته به د (ARAP) ټیم د حوالې شمیره بدله کړي چې په (M) او یا (R) به پیل کېږي.
- که د غوښتنلیک شمیره په (M) سره پیل شي، دا یو وړ غوښتنلیک دی چې د ۱ اپریل ۲۰۲۱ اود ۳۱ اګست ۲۰۲۱ ترمنځ جوړ شوی؛ او
- که غوښتنلیک شمیره (R) سره پیل شي، دا یو وړ غوښتنلیک دی چې له ۱ سپتمبر۲۰۲۱ څخه جوړ شوی.

#### د پارلمان غړي ته لیک

